# د افغانستان
# د څېړنو خبرپاڼه

۱۰مه ګڼه، ۲۰۰۶ کال جولای


۲ غوره؛ معلومات د ملي بنسټونو د جوړوني په درشل کې؛ ننسی هتچ ډوپری
۵ خبرونه او نوښتونه
۶ او سنی څېړنی
۸ د افغانستان د څېړني او ارځوني د اداری نوی څپروني
۹ نوی څپروني او منابع
۹ کرنه
۱۰ اقتصادي پرمختګ
ښوونه او روزنه
جنسیت (جنډر)
حکومت او سیاست
۱۲ روغتیا
تاریخ
بشردوستانه مرستی
۱۳ قانون، عدالت او د بشر حقوق
۱۵ رسنی
مهاجرت
طبیعی منابع
تریاک
۱۶ امنیت
ښاری پرمختګ


Afghanistan Research and Evaluation Unit

# معلومات؛ د ملي بنسټونو د جوړونې په درشل کې

## په کابل پوهنتون کې د افغانستان مرکز

د اتیایمې لسیزې په پای کې پاکستان ته د افغاني مهاجرینو بهیر لوړې کچې ته ورسید. په پېښور کې مرستندویه ټولنې په ډلو ویشلې شوي وې نه یوازې یې یو بل ته د شک په سترګو کتل بلکې د ناڅیزو ګټو د خوندي کولو لپاره له حده ډک رقابت کې راښکیل وې او یو د بل د فعالیتونو څخه ناخبري وې.

د ۱۹۸۸ کال د مې په میاشت کې ملګرو ملتونو دې ستونځمن ډګر ته په دې هوډ ور ودانګل چې دې ګډوډیو ته د پای ټکی کېږدي او نظم رامنځ ته کړي، کله چې مرستندویه ټولنې د ملګرو ملتونو ددې چلنج ترسیوري لاندې راغلې ټولې خپل منځنۍ ترګنې او اختلافات یې یوې خوا ته کړه او د افغانانو لپاره د مرستو د هم غږۍ اداره (اکبر) رامنځته کړه او د مختلفو ستکتورونو د چارو د سمون لپاره یې زیاتې کمیټې په کار وګمارلې.

د کتابتون کمیسیون په لومړي پړاو کې دا پریکړه وکړه هغه کتابونه چې په افغانستان کې خپاره شوي دي په بیه واخلي. ښاغلی لوي ډوپرې چې ددې لست په چمتو کولو کې ګمارل شوی وو له زیات زیار وروسته د دوهمې هفتې په پای کې کمیسیون ته درې فقریزه مشاهدات د کره کتنې لپاره وړاندې کړل؛ ۱. هغه مکمل لستونه ددې ښکارندوي وو چې افغانستان په هکله د لیکل شویو کتابونو شمیره خورا زیاته ده. ۲. دا هم شکمنه وه چې ایا ددې کتابونو د اخیستلو لپاره به پوره مالي امکانات ترلاسه شي په داسې حال کې چې ددې کتابونو د ځآي په ځاي کولو لګښت په هکله خو لا له سره غور نه وو شوی. ۳. او په پای کې ښاغلي دوپرې دا هم شکمنه وبلله چې ممکن مرستندویه ټولنه د همدې ارزښتمنده زیرمې څخه یو په سلو کې هم ګټه پورته نکړي. دده په اند هغه دا غوره وبلله چې دغیر دولتي موسسو لپاره‌به دا سودمنه وي چې هغه اسناد لکه سروې، د فعالیتونو راپورونه او نور څیړنهیز راپورونه چې دوی یې خپله خپروي راټولې او له یو بل سره شریک کړي. په دې صورت کې به نه یوازې د چارو دبې ځایه تکرار مخه نیول شوې وي بلکې د ښه پوهاوي په نتیجه کې به یې د خپلو بریاو او ناکامیو علتونو څخه هم ګټه اخیستې وي. په همدې منظور په ۱۹۸۹ کال کې د اکبر د اطلاعاتي منابعو مرکز (ARIC) بنسټ کېښودل شو. ددې پیل څخه د نوموړي مرکز د پښتو/دري او اروپایي ژبو اسنادو مرکز او شتمنې زیرمې ته پراختیا وموندله. چې کتابونه، راپورونه، ورځپاڼې، مجلې او د مجاهدینو د خپرونو نادره کلکسونونه او سمعي او بصري مواد ددې زیرمې مهمې برخې جوړوي. د افغاني لیکوالو د هغو کتابونو بیلګه چې په کابل کې د شخصي او عامه کتابتونونو څخه لوټ شوي وه ددې زیرمې بې ساره او ارزښتناکه برخه ګڼل کیږي. دا ټول اسناد د افغانستان د ستونځمن او ربړې ډک تارخ څخه نماینده ګې کوي. او پدې توګه د افغاني فرهنګي میراث نه بیلیدونکې برخه جوړوي.

د ۱۹۹۶ کال د سپتمبر په میاشت کې د اربک ګرځنده کتابتونونو (ABLE) پروګرام په دې موخه چې کلیوالي سیمو او ښوونځیو ته کتابتونونه مهیا کړي پلې شو. سیمه ییزه ساتونکې، ښوونکې دغیر دولتي موسسو منسوبین، هټیوال، علما ددې کتابتونونو چارې سمبالوي. کتابونه چې په بیلا بیلو عناوینو له تاریخ څخه نیولې تر چاپیریال کورنۍ اداري او روغتیایې طرزالعملونو باندې لیکلې شوي دي، کتابتونونو کې مهمه ونډه لري.

د ۲۰۰۴ کال د لوړو زده کړو وزارت او د کابل پوهنتون د ریس په بلنه د اکبر د اطلاعاتي منابعو مرکز پریکړه وکړه چې خپل انګړ په کابل پوهنتون کې د علمي ټولنو پر مخ پرانیزي. تر دې دمه په اټکل د زیرمې درې برخې له پیښور څخه لنډ مهالي دفتر ته چې د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې موقعیت لري را وړل شوي دي او دا پروسه به د ۲۰۰۶ کال د جون په میاشت کې د پیښور د دفتر پر تړلو سره بشپړه شي په دې ډول د اکبر د اطلاعاتي منابعو مرکز په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څیړنو مرکز ته (ACKU) واړول شو.

### په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څیړنو مرکز مقاصد:

نوموړی مرکز یوه غیر انتفاعي موسسه ده چې د موادو په تهیه کولو سره د داسې څیړنو اسانتیاوې برابروي چې د نننی افغانستان د ملي بنسټونو جوړونې ګواښونو ته ځواب ووایي. دا یو داسې فعال کاري ارشیف دی چې د نننیو او راتلونکو تګلارو جوړوونکو سره معلومات شریکوي.

افغانستان نن سبا د راتلونکې په لور مهم ګامونه پورته کوي دی کې د دولت د جوړښت په هکله چې کومې بریاوې تر لاسه شوي د زده کړې وړ دي دا امر ایجابوي چې له مختلفو لیارو راز راز معلوماتي سرچینو ته رسیدنه وشي تر څو ستراتیژۍ جوړونکې، پرواګرام طرح کوونکې، پروژې بشپړوونکې، مدني ټولنې، اجرایوي څانګې او ټولنې ته د پوهې هغه ابزار تر لاسه کړي کوم چې د دوی په بریالیتوب کې اغیزمن رول لوبوي. دا څرګنده ده چې په معلوماتو کې څه کمې نشته مګر دا هر چیرې هو مره خواره دي چې د چاورته ضرورت شي لاس



ته راورل یې خورا ګران وي. حتی په ځنې حالاتو کې د نفوسو زیاته برخه د معلوماتو د شته والي باوجود د هغوی څخه اغیزمنه ګټه نشي پورته کولی. د نفوسو پوره دریمه برخه د جګړې په کلونو کې د هیواد څخه بهر اوسېدلي او ډېری یې د ښوونځي له نعمت څخه برخمن نه وو. او که لږ څه زده کړه یې هم تر لاسه کړې وه، نتیجې یې په بشپړه توګه د پراختیایي پروګرامونو د عملي بڼې څخه خالي وي. ستنیدونکي ځوانان د خپل کلتور او تاریخ په هکله لږ معلومات لري چې د ستنیدو په وخت کې د ژوند د واقعیتونو سره د مخامخ کیدو پر وخت کې د ستونځو سره لاس او ګریوان کیږي. د دې تر څنګ د څېړنې رول د پلان جوړونې په مقصد د معلوماتو په سمبالولو کې یا خو پیژندل شوی نه دی او یا له سره ور څخه هیڅ ګټه نه ده پورته شوې. د معلوماتو خورول په ځانګړې توګه ګوښه کړې شویو ټولنو ته په هیڅ ډول کافي ندي چې د دې معلوماتو په نتیجه کې د کورنۍ د معیشت په لوړوالي او ورسره د پوهې او مهارتونو څخه چې اقتصادي فرصتونو ته لاره هواره وي پوره پوره ګټه پورته کړي. او په پای کې په مرستندویه ټولنه کې بهرنیان معلوماتو ته د رسیدنې په هکله ورته ستونځې لري چې د دې معلوماتو څخه په ګټه پورته کولو سره د داسې پروګرامونو په پلان کولو کې چې کلتوري ارزښتونه پکې نغښتي وي پوره مرسته وکړي.

معلوماتو ته د لاس نه رسیدنه خورا د خواښیني وړ ده دا د دې د پاره چې نه یوازې دا موجود تیار او هر اړخیزه معلومات چې د پراخه خدماتو له لیارو وړاندې کیږي د بیا رغونې اغیزمنه وسیله ده بلکه د ناسمو معلوماتو او خیالاتو چې د نارضایتیو د تداوم سبب او د پرمختګ خنډ کرځي د مقابلې یوه ځواکمنه وسیله ده.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو مرکز غوره مقصد دا دی چې علم ته لاس رسیدنه باوري کړي او پدې وسیله د افغانۍ ټولنې د تیر، اوس او راتلونې ټولنیز، اقتصادي او کلتوري ارزښتونو په پوهاوي کې مرسته وکړي.

هدفونه:

- د معلوماتو د مرکز زیرمې چارې سمبالول تر څو په افغانستان او بهر کې د څېړنو اسانتیاوې برابرې کړي.
- د یوه داسې هر اړخیزه کتابتون او څېړنیز مرکز فعالول تر څو د افغانستان پورې اړونده پوره پوره معلومات راغونډ او ورسره تړلې خدمات مهیا کړي. دې کې د اسنادو سمبالښت، او لوستونکو ته خدمات، معلوماتي تکنالوژي، ګرځنده کتابتونونو پروګرام، سیمینارونه، ننداړتون، نشرات او خبري رسنۍ پکې شاملې وي.
- افغانستان او افغانانو پورې تړلي اسناد چې څېړنیز ارزښت ولري راټول او خوندي کول یې باوري کړي. او پوهان، زده کوونکي، مرستندویه ټولنې، مدني ټولنه او عام وګړي ورته اسانه لاس رسیدنه ولري.
- اسنادو ته زیات نه زیاته لاس رسیدنې لپاره د عصري معلوماتي تکنالوژۍ وسایل لکه ډیټابیز، ویب پاڼه، پي ډي اف او سي ډي رم په کارول.
- د ولایاتو او پوهنتونونو کتابتونونو برسیره د نورو بهرنیو علمي ادارو سره د اړیکو جوړول.
- د افغانستان د ټولو سکتورونو په اړوند د څېړنو اسانتیاوې برابرول

## موجوده په کار راتلونکې زیرمه

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو د مرکز په زیرمه کې تر زیاته حده هغه اسناد شامل دي چې د افغانستان حکومت، ملګرو ملتونو ځانګو، د غیر دولتي موسسو او بهرنیو پوهانو او څارونکو له خوا د تیرو ۲۵ کلونو موده کې څپاره کړي دي. تر دې دمه ۱۳۷۳۹ اسناد کتلاک شوي چې ټوله شمیره یې ۳۲۵۰۰ ټوکو ته رسیږي چې د دې زیرمه برخه جوړوي او ورځ په ورځ نوي اسناد په دې شمیره ورزاتیږي.

دا زیرمه چې په پښتو، دري او لویدیزو ژبو ده د روغتیایي، کرهنیزو چارو، سیاسي ارزونو، د ښځو د حقوقو پورې اړوند اسناد، وروستنی تدوین شوی قوانین، د مجاهدینو څپرونو نادره کلیکسونونه، کلتوري میراث او افغاني ادبیاتو پورې تړلي موضوعات خپلې غیږې کې ځاي کړي دي. دا اسناد چې په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو مرکز په لنډ مهالي دفتر کې چې د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې موقعیت لري خوندي شوي دي دا مجموعه په سیمه کې تر ټولو مخکښه زیرمه شمارل کیږي.

د دې زیرمې په برابرولو او اداره کولو کې، کتلاک کونکي، د معلوماتي تکنولوژۍ ماهرین، د اسنادو راټولونکي، د مراجعینو سره

د اړيکو مسؤل، پروګرام مسؤل او نور اداري منسوبين شامل دي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو مرکز د لوست خونه په مرکزي کتابتون کې د محصلينو، استادانو، او تګلاري جوړونکو لپاره په کمپيوټرونو سمبال ده چې د انټرنټ او د نوموړي مرکز د ډيټابيز سره تړلې دي. په سلګونو اسناد د پي ډي اف په بڼه اړول شوي او د همدې اسنادو پراخه خورونه د سي ډي رم له لياري باوري شوې ده. د سمعي او بصري ځانګې برسيره پر تازه خبري راپورونو د غير دولتي موسسو د پروګرامونو ويډيو ګانو، د افغانستان د معاصر تاريخ، توکم پيژندنې او کلتوري پروګرامونو څخه د ګټې پورته کولو لپاره اېښودل شوې دي. يوازې د ۲۰۰۷ کال د مې په مياشت کې ۷۲۵ لوستونکو په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو مرکز د پورتنې اسانتياوو څخه برخمن شوي دي.

د ګرځنده کتابتونونو پراختيايي پروګرام د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ښوونځيو او کليو او باڼډو کې ۱۴۵ کتابتونونه چې ۱۲۰۰۰۰ کتابونه پکې اېښودل شوي سمبالوي. همدارنګه دې اداري ۱۵۰۰۰۰ ټوکه په پښتو او دري د لوست اسانه کتابونه په ۱۲۵ مختلفو موضوعاتو خپاره کړي دي.

## په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو مرکز په وړاندې ګواښونه

نوموړي مرکز په نظر کې لري چې د خپلې زيرمې او تجاروبو په پياوړتيا کې څه داسې نوې فعاليتونه پيل کړي چې زيرمه کې موجوده اسنادو ته لاس رسيدنه لا زياته اغيزمنه کړي.

- د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون په وړاندې د ۱۹۷۹ تر ۲۰۰۱ کال پورې اړوند د بشري حقوقو ځانګړې ارشيف منځ ته راوړي. چې دا په حقيقت کې په افغانستان کې د سولې او بيا پخلاينې سره پوره مرسته وکړي.
- په کابل پوهنتون کې د افغانستان د علمي څېړنو د مرکز ارشيف په بريښنايي بڼې اړولو چارې په بشپړېدو سره به نه يوازې دا معلومات خوندي کړي بلکه په افغانستان کې د څېړنې او پراختيايي ادارو او هم د ولايتي کتابتونونو او بهرنيو ادارو سره د اړيکو له لياري زيرمې ته لاس رسيدنه ګړنده کړي.
- په بلومنګټن کې د انډيانا پوهنتون د موسيقي نوموړې ښوونځې په مرسته د افغاني موسيقي هغه قيمتي پراخه کليکسون چې لوی ډوېږي د جنګ د کلونو څخه مخکې ثبت کړي وو د مينه والو په واک کې کيږدي. د شمالي امريکا او اروپايي پوهنتونونو سره د ويډيويي کنفرانس له لياري به په کابل پوهنتون کې محصلين او استادان وکړايشي د علمي څېړنو مرکز د اسنادو څخه په ګټه اخيستلو د ورځنيو مسايلو لکه چاپيريال، د ښځو حقوق او ديموکراسي په هکله د لويديز ليد او خيالاتو ته رسيدنه پيدا کړي تر څو افغانان او بهرني محصلين او استادان د افغانستان راتلونکي مشرتابه او د غوړيدو په حال نوي افغاني کلتور سره اشنايي پيدا کړي. د اربک ګرځنده کتابتونونو (ABLE) پروګرام سره بايد مرسته وشي تر څو نوي لوست زده کوونکو لپاره د ليکل شويو اثارو له لياري د پوهې وړانګې خورې کړي.
- د داسې يو مساعد چاپيريال برابرونه چې پورتنې راکړې ورکړې پکې صورت ومومي.

## د مقاصدو په بنا ودانۍ

د پورتنيو چارو پرمخ بيونې لپاره غوره ده چې په کابل پوهنتون کې د افغانستان د عملي څېړنو مرکز د اوسنې لنډ مهالي دفتر څخه خپلې ودانۍ ته انتقال ومومي. طبعي ده چې د نويو فعاليتونو د اجرا لپاره به هم نورو سامان الاتو ته اړتيا وي او هم منسوبين يو مناسب ځای ته ضرورت ولري. په دې هکله د پوهنتون چارواکو په ډير اخلاص سره يوه ټوټه ځمکه را په ګوته کړې چې د همدې مقاصدو په بنا ودانۍ پکښې جوړه شي. مهندسين ديوي داسي ډيزاين په راښکلو لګيا دي چې دود يز بڼه اي انځور پکې منعکس شوی وي.

دا نوی ودانۍ به د افغاني او بهرني زده کوونکي او استادانو لپاره په زړه پورې چاپيريال برابر کړي تر څو د يو بل د تجاربو، څېړنې او اطلاعاتي تکنولوژۍ د مهارتونو څخه پوره ګټه پورته کړي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د عملي څېړنو د مرکز تصوير پراخه او پر زړه پورې دی او په هيواد کې د نوي پرمختګونو رڼا کې په ځانګړې توګه چرته چې نوي تاکل شوي اولسي جرګه، ولايتي شوراګانې، ژورنالستان، مفکرين، پلان جوړوونکي، استادان او محصلين د مختلفو قضاياو په هکله مباحثې کوي او په نتيجه کې په مختلفو ساحاتو کې د ملي پاليسيو په هکله اسناد نشر ته سپاري. د افغانانو د هيلو سره سم زيار ايستل کيږي چې وروسته پاتې ټولنو ته رسيدنه وشي. د کليو، باڼډو او اجرايوي اداري چارواکو په واک کې دا معلومات کېښودل شي.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د عملي څېړنو مرکز وياړي چې د دې هڅو يوه مهمه برخه ده. دغه مرکز به هله برې ومومي هغه اداري چې غوره اسناد نشرته سپاري ور سره پوره ملاتړ او همکاري وکړي. زموږ هيله داده چې همدې غورو خپرونو په راليږلو سره ددې مرکز په بډاينې او اهميت کې مرسته وکړي تر څو د نورو مينه والو سره يې شريک کړي.

د لا زياتو معلوماتو له پاره دغه ويبپاڼه وګورئ
WWW.AFGHANRESOURCES.ORG

# خبرونه او نوښتونه

د وروستنی خبر پاڼی (د ۲۰۰٦ کال د اپریل د میاشت) له خپریدو څخه وروسته، د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری یو نوی موقعیت ته کډه کړی ده. او همدارنګه موږ د خپلی خبر پاڼی بڼه هم د لا ښه اسانه لوستلو او د دغی اداری له نورو خپرونو سره د سمون له پاره بدله کړی ده. موږ د لیکنو نظم د مضمون پر اساس په لویو ګروپونو بدل کړی دی، او ټول د یوه مضون په هکله مواد مو د یوه عنوان لاندی اچولی دی.

سره له دی چې موږ د دغی خبر پاڼی له لوستونکو څخه تشویقوونکی عکسل العمل تر لاسه کوو، خو د موادو راغونډول ډیر ګران کار دی ځکه چې په افغانستان کې زیاتی اداری او انفرادی کسان په فعاله توګه خپلی خپرونی خپروی. موږ د نورو سازمانونو چې په کابل او یا په نورو ځایونو کې دی په مینه والو کارکوونکو باندی د خپرونو او مرجعو د استولو له پاره حساب کوو.

که څه هم موږ هڅه کوو چې په دغه خبر پاڼه کې تر ټولو نوی خپرونی شاملی کړو خو کله داسی هم کیږی چې ځنی خپرونی د اصلی وخت څخه وروسته خپریږی او یا زموږ ذهن ته په داسی وخت کې راځی چې له خپریدو څخه یې میاشتی تیری شوی وی؛ موږ تر ټولو مهمو خپرونو لسټ دلته د لا زیاتی خبرتیا له پاره ځاي پر ځاي کوو.

که تاسو د افغانستان په هکله د نویو څیړنو په اړه کومو پاڼو، څیړنو، اسنادو او نخشو سره کله هم مخامخ شی نو بی له واره یې موږ ته په دغه بریښنا لیک را واستوی. newsletter@areu.org.af

## د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری کتابتون

له ۲۰۰۲ کال څخه را په دی خوا د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری د خپلو د څیړنو د حمایې لپاره یو کتابتون جوړ کړی دي چې مواد یې خاص د افغانستان په هکله دې. په ۲۰۰۳ کال کې د جنوبی آسیا د څیړنو ټولنی چې پخوا د افغانستان د څیړنی برتانوی موسسی په نام یادیدله، د افغانستان د څیړنی او ارځونی اداری ته تقریباً ۳۰۰۰ کتابونه او راز راز لیکنی چې د سیمی او د افغانستان په هکله وې، ورکړی. د دغه کار یو اړخ داوو چې دغه کتابونه په افغانستان کې پاتې شې تر څو څیړونکې له هغو څخه کار واخلی. د افغانستان د څیړنی برتانوی موسسه" ۱۹۷۲ کال کې په کابل کې تاسیس شوه، او یو شمیر د لرغون پوهنی پروژی یې په غاړه واخستلي. او همدانګه یې د برتانی له زده کوونکو سره چې د بشر پوهنی او توکم پیژندنی په هکله څیړنی کولی مرسته کوله. د دغی موسسی ریس رالف پنډر ویلسن په ۱۹۸۱ کال کې د کمونستانو له خوا ونیول شو او له یو شمیر نورو بهرنیانو سره یو ځاي له افغانستان څخه وایستل شو. او د دغی موسسی د کتابونو بیلګه د برتانی په سفارت کې وساتل شوه. او دنیکه مرغه مخکی له دی چی سفارت تالا شی د کتابونو بیلګه له هغه ځاي څخه انتقال شوه. او دغه کتابتون بیا په ۲۰۰۲ کال کې فعال شو.




له باب نوکس، کارلا کرسمنو، نیکولاس سمس ویلیمس او جانتن لي څخه د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری لپاره د کتابونو د دغه غونډی د ورکولو د ترتیبونی لپاره مننه کوو، دغه بی ثاری زیرمه یو ځل بیا د څیړونکو لپاره لاس رسیدنکی ده. ډاکټر انډریو وایلډر، چې له ۲۰۰۲–۲۰۰۵ پوری د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری ریس وو، په افغانستان کې د ملګرو ملتو د مرستندویه هیات په مالی مرسته، موافقت وکړو چې دغه د کتابونو بیلګه ځاي پر ځاي کړی، د رده بندی لپاره یې کارمندان استخدام کړی او د ساتنی لپاره یې سرمایه تیاره کړی.

دغه بیلګه چې د زیاتیدو په حال کې ده، په دغه شان ده؛ د افغانستان د دولت خپرونی، د بسپنه ورکوونکو او د غیر حکومتی سازمانونو خپرونی او راپورونه چې د افغانستان په هکله دی، او د ملګرو ملتو اړونده خپرونی، موقوته خپرونی، نخشی، سي ډیان او ډی وی ډیان. د رسمی مجلو خاصی یادونی او د افغانستان د سرشمیرنی کتاب. دغه بیلګه اوس له ۵۰۰۰ څخه زیاتی رده بندی شوی نمونی لری چې په انګریزی، پښتو او دری ژبو او داسی نورو ژبو باندی (لکه فرانسوی، جرمنی، ایتالیاوی، او روسی) دی. او ۲۰۰۰ نوری لا در رده بندی په پروسه کې دی. د دغه کتابتون منظور له نورو بین المللی کتابتونونو سره د رقابت نده بلکه غواړی چې اړونده مواد چې په افغانستان او له افغانستان څخه بهر دی د بین المللی او ملی څیړونکو د استفادی لپاره وساتی. دغه کتابتون د افغانستان د څیړنی او ارځونی د اداری په دفتر کې موقعیت لری (د ګل فروشی کوڅه د دوهمی کوڅی ګوښه). نوموړی کتابتونه د سهار له ۹ بجو څخه د مازدیګر تر ۴ بجو، له یکشبه تر پنج شنبه پوری کار کوی. (د جمعی او شنبی په ورځو کې تړلی وی)، د دغه کتابتون ټول مواد یوازی د کتابتون دننه او د کاپی کولو لپاره لاس رسیدونکی دی، خو امانت نه ورکول کیږی. د دغه بریښنا لیک له لاری کولای شی چې له دغه کتابتون سره په تماس کې شی. newsletter@areu.org.af.

# اوسنۍ څېړنې

په دغه ځای کې د افغانستان د څېړنې او ارځونې اداری د اوسنی څېړنو خلاصه، چې د دغې اداری څېړونکو تر سره کړې دي موجوده ده. د لا زیاتو معلوماتو له پاره او یا د تماس نیولو له پاره دغه بریښنا پتې ته لیک را واستوی newsletter@areu.org.af. فرنسز برون د څېړونو د کار په هکله د هغوی تشریع تالیف او تصحیح کړې ده.

## د طبیعي منابعو اداره

د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری د طبیعي منابعو د اداری په باب څېړنه د افغانستان د ملي انکشاف د انتقالي ستراتیژۍ د کرنې او شپنې صنعت تشخیص په افغانستان کې اقتصادي ودې له پاره د اساسي ساحو په بڼه منعکس کوي. د افغانستان د ملي انکشاف انتقالي ستراتیژۍ د مشروع کرنې پراختیا او جدیت د نشه یي توکو پر ضد د مبارزې د پالیسي د همایې له پاره لازمي ګڼي. د دغو اولویتونو بنیاد د افغانستان د طبیعي منابعو د اداری د انکشاف د درک وړ اړتیا ده، په خاصه توګه د اوبه لګونې، د ځمکې نیونه، امنیت او څاروی. نوموړې څېړنه د کابل، هرات، غزنی، او د کندز ولایاتو باندې تمرکز کړې، چیرته چې اوږدمحاله او موضوعي څېړنې اوبو ته د لاس رسنې او اداری، د کرنې سیستم او کلیوالـه معیشت په هکله سپړل کوي. او کولای شو ووایو چې په لا خاصه توګه، دغه څېړنه د مشروع کرنې د حاصل د انکشاف او بیا د کلیوالـه معیشت د ښه والي له پاره له طبیعي منابعو او فرصتونو څخه د بزګرانو د استفادې د طریقې د ویرې او اغیزمنتوب د پیژندلو پلټنه کوي. د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری د څېړونکو ډله یو داسې طریقه رامنځته کوي چې د مقایسې له مخې په ټول هیواد کې د کرنې ستراتیژیو څارنه او تحلیل وکړي. د ۲۰۰۶ کال په پای کې به دغه اداره د بیلا بیلو تخمونو د ګټې او د تولید د شرایطو د راز راز ستراتیژیو په اړوند دقیق معلومات په لاس کې ولري. همدارنګه د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری څېړنیزه ډله د افغانستان د ځمکو د هیأت په همکاری سره د ځمکو د نیونې په امنیت باندې کار کوي. کولای شو ووایو چې د دغې ډلې هیله دا ده چې د ځمکو د مناقشو له پاره د روغې جوړې لارې چارې رامنځ ته کړي.

## جنسیت

د جندر یا جنسیت څېړنیزه پروګرام د افغانستان په شرایطو کې د جندر د اړیکو د پالیسي دلالت آزمایي. او په راتلونکي کال کې به دوه نورې څېړنې تر سره کړي. یوه یې د کورنیو ډاینامیزم او د کورنیو د تاوتریخوالي په هکله ده چې موخه یې د ۲۰ کلونو جنګ جګړې په دوره کې په کورنیو کې د بدلونونو، او د کورنیو په اړیکو او قدرت باندې د دغو بدلونونو د اثراتو، او دا چې په څه حالاتو کې دغه تغیرات په کورنیو کې د تاوتریخوالي د زیاتیدو او یا کمیدو سبب ګرځي، پوهیدل دي. په دې کې د ښځو او نارینه وو، او خپله د ښځو او یا د نارینه وو تر منځ تاوتریخوالي او همدارنګه د ماشومانو انضباط پکښې شامل دي. د دغې څېړنې نتایج به په افغانستان کې د کورنیو د تاوتریخوالي پر مخه د انګیرنو دقیقه پوهه تیاره کړي، چې د دغه شان تاوتریخوالي د کمولو فعالیتونو او پیغامونو سره به مرسته وکړي.

دوهمه څېړنه به په افغانستان کې د ټولنو د قضایي سیستم د فعالیتونو په هکله څېړنه تر سره کړي. د دغې څېړنې له موخې څخه ده چې ۱) د ټولنې قضایي سیستمونه څنګه فعالیت کوي، د وخت او فضا په پام سره د هغوی بدلونونو تعریف، او هغه پرنسیبونه چې د هغو پریکړو تابع دي؛ ۲) د شریعت، دولت، او مرسومي قوانینو اړیکې وڅیړي او دا کشف کړي چې کوم اختلافات په محل کې حلیږي او کوم اختلافات دولت ته راجع کیږي، دلیل یې څه دی؛ او ۳) او دا چې د ټولنې د قضایي سیستمونو د فعالیتونو او حاصلاتو د مساواتو دلالت مالوم کړي، او خاص تمرکز به د جنسیت په مساواتو باندې وي. دغه څېړنه په د ۲۰۰۶ کال په سپتمبر کې به دوو تر څلورو ولایاتو کې پیل شي.

## معیشت

د مهاجرت په هکله د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری څېړنه وطن ته د مهاجرینو د راستنیدو او بشپړتیا، په هیواد کې د بې ځایه شویو خلکو، او په افغانستان کې د راستانه شویو کسانو اړونده مسایل آزمایي. د څېړنې له موخې څخه ده چې د موجوده معلوماتو نواقص په ګوته کړي او په افغانستان، پاکستان او ایران کې لا زیات اغیزمنه پالیسي، پروګرام، او مدافعي کارونو له پاره معلومات برابر کړي. د نوموړې څېړنې ډلـه اوس په دریو ګاونډیو هیوادو کې د افغانستان د دوهم نسل په څېړنه باندې لګیدلې ده، نوموړې درې هیوادیزه څېړنه په زلمیو افغانانو باندې چې له ۱۵ تر ۳۰ کلو پورې عمر لري او لږ تر لږه د خپل د عمر نیمایي برخه یې په پاکستان یا ایرا ن کې تیره کړې وي، تمرکز کوي، او د یو افغان په بڼه د هغوی د هویت احساس څیړي او افغانستان ته د راستنیدو له احساس سره یې اړیکې مالوموي. له کومه ځایه چې ځوانان د هغو افغانانو چې په ګاونډیو هیوادونو کې ژوند کوي یوه اساسي برخه جوړوي چې په پاکستان کې ۵۵ فیصده افغانان له ۱۸ کلو څخه کوچنی دي، نو د وطن په هکله د هغوی د احساساتو او ادراک پیژندنه د موفقانه راستنیدو د ستراتیژیو د جوړولو له پاره غوره ده. دغه څېړنه به همدارنګه د راستانه شویو ځوانو افغانانو چې لږ تر لږه نیم عمر یې په بهر ملکو کې تیر کړې وي، د راستنیدو تجربې وڅیړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د کلیواله معیشت څېړنه اوس په کلیواله معیشت کې د قرضو په رول باندې تمرکز کوي. نوموړې اداري په دې وروستیو کې د غیر رسمي قرضې د سیستمونو په هکله یوه څېړنه بشپړه کړه، چې د کورنیو د ژوندون او حفاظت په ستراتیژیو کې د دغه ډول قرضو د اړیکو اصلي رول څرګندوي په داسې حال کې د دغو ډول قرضو نادرسته استثمار هم چې کله نا لکه بېنسېرې مالوموي. د پورتني څېړنې د موندنو پر اساس دغه اداره اوس په کلیواله معیشت کې د مایکرو کریډیټ د رول په هکله څېړنه کوي. د پام وړ پانګې چې په هیواد کې د مایکرو کریډیټ په بڼه شوی په پام کې نیولو سره، دغه پلټنه کوي چې څه کسان دغه شان قرضو ته لاس رسنه لري او دا د هغوی کلیواله معیشت په امنیت کې، په کور کې د جنسیت د اړیکو او د غیر رسمي قرضو په اړه څه مفهوم لري. او همدارنګه دغه څېړنه د افغانستان په شرایطو کې د مایکرو کریډیټ د اغېزو په آزمایلو کې یو انتقادي لید د مایکرو کریډیټ د ورکوونکو د مخالفت لرونکي انګېزو په رڼا کې، چې زیاتره یې د خوارې د له منځه وړلو ادعا کوي خو اکثره د موسسو د خطر د لږولو او د مالي ټینګښت له خوا زیات اداره کیږي. د څېړنې په نتیجه کې به د مایکرو کریډیټ له پاره سپارښتنې تیارې کړي چې څنګه کولای شي د مراجعینو د علاقې په مطابق خدمات وړاندې کړي. او همدارنګه به پنځو ولایاتو کې د تریاکو د تولید څخه د بزګرانو د را ایستلو له کوښښونو سره د مایکرو کریډیټ د اړیکو براورد وکړي.

د ښاري معیشت په هکله د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري ۱۸ میاشتني څېړنه د ۲۰۰۷ کال په آګسټ کې پای ته رسیږي. دغې څېړنې داسې موندلې ده چې د ښارونو ولاړ مارکیټي کارونو ته د ستنې لاس رسنه، د ځمکو نا امني، اساسي خدماتو ته ضعیفه لاس رسنې او د ښاري پلانونو په پروسه کې د ږغ نشتون په افغانستان کې د ښاري معیشت د نا امنۍ اساسي عاملونه دي.

## حکومت

د حکومت داري څېړنیزه پروګرام اوس په دوو پراخه ساحو کې کار کوي؛ ۱) د ولایاتو او ولسوالیو د حکومت جوړښتونه، او ۲) ټولنیزه حکومت او د ملي پیوستون پروګرام. د ولایاتو او ولسوالیو د جوړښتونو څېړنه اوس د ولایاتو د شوراګانو او د ولایاتو د انسجام په میکانیزمونو، لکه د ولایاتو د انکشاف کمیټه او سیمه ییزه کچې ته د عامه اداري سمون په پراخولو باندې تمرکز کوي. د ټولنیزه حکومت څېړنه د محلي حکومت په ټولنو کې د فعالیت بدلونونو باندې چې د ملي پیوستون د پرواګرام د ټولنې د انکشاف د شورا د معرفي کولو له کبله رامنځته شوي دي او له اوسني رسمي او غیر رسمي مقاماتو سره د هغوی په همه جانبه اړیکو باندې تمر کز کوي. د ټولنې د انکشاف د شوراګانو فعالیت او ستونځې چې د ملي پیوستون تسهیل کوونکي غړي ور سره مخامخ دي د ۲۰۰۵ کال د پاڼې مضمون دی، *"د ملي پیوستون سمه هماهنګي"*. او راتلونکې خپروني او څېړنې به د سیمه ییزه حکومت په جوړښتونو کې د ټولنې د انکشاف شوراګانو پر ځای، او د ټولنې په کچه نورو حکومتي مسایلو باندې په شمول د امنیت او د مخالفتونو په حلولو باندې تمرکز وکړي.

## بازارونه او سیاسي اقتصاد

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري د بازارونو او سیاسي اقتصاد د څېړنې اصلي موخې دا دي؛ ۱) چې په افغانستان کې د خصوصي سکتورونو د دندو په هکله لا ښه پوهاوي تر لاسه کړي؛ ۲) چې د افغانستان د سوداګرانو له تجروبو څخه، هغه چاپېریال چې هغوی پکښې فعالیت کوي او له کومو خنډونو سره چې مخامخ کیږي، په هکله پوهاوي تر لاسه کړي؛ ۳) چې بیا رغونې او اقتصادي پالیسي په بازارونو باندې څه اغیزه لري؛ ۴) چې د *خصوصي* سکتور واقعیتونه د پالیسي جوړوونکو له موخو او توقعاتو د اړیکو براورد وکړي؛ ۵) د خصوصي سکتورونو د انکشاف د ګټو د لا ښه خپرولو له پاره سپارښتنې وکړي، او په بازارونو کې ونډه او لاس رسنه پراخه کړي. د ۲۰۰۷ کال د جون د میاشت، *بازارونو ته ورتګ: د افغانستان په شپږو سکتورونو کې سوداګري او سوداګران*، راپور د ممیزو، غالیو، د معدني سونګ موادو، درملو، د معماري مواد او د مستعملو موټرو د بازار په هکله د موضوعي څېړنو اساسي موندنې را کښاګي. د نوموړي پروګرام موخه دا هم ده چې د سیاسي اقتصاد تر ټولو ښه مسایل په ګوته کړي؛ د اوسني خصوصي کولو د پالیسي په هکله یوه پاڼه راتلونکې ده. د یادونې وړ ده چې په راتلونکې میاشتو کې دغه څېړنیزه ډله به د حکومت د انکشافي ستراتیژۍ په هکله د اقتصاد حیاتي مسایل په ګوته کړي، لکه د معدني موادو د منابعو د استخراج سکتور په افغانستان کې د ودې اساسي بالقوه محرک په بڼه، په ګوته

### د فرانسي د لرغون پوهي هیأت څېړنه په افغانستان کې

په افغانستان کې د فرانسي د لرغون پوهي هیأت په ۱۹۲۲ کال کې رامنځته او په ۲۰۰۴ کال پر انستل شو چې په ټول افغانستان کې له ۱۰ څه زیاتو پروژو باندې، لکه سروې، د لرغون پوهي استخاج، د لرغونو موادو او معماریو په ساتنې، او د کلتورو میراثونو په ساحه کې د مسلکي افغانانو په روزلو باندې، کار کوي. د دغه هیأت په نوي برېښنا پاڼه کې www.dafa.org.af څېړنو له پاره د پروګرامونو، او د استوګنځای او د دغه هیأت د کتابتون د استفادې له پاره لار ښود موجود دی، (په دغه کتابتون کې تقریباً ۱۰۰۰۰ کتابونه او د لرغون پوهې او تاریخ په هکله ۳۰۰۰ موقوته خپروني موجودې دي). دغه برېښنا پاڼه به ژر تر ژره په انګریزي ژبه باندې جوړ شي. په لاندني برېښنا لیک کې له ډیوېډ جوري سره په تماس کې شئ: david.jurie@dafa.org.af

# د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداري نوي خپروني

لاندنی خپرونی د دغی اداری د اپریل، می او جون په میاشتو کې خپری شوی، او دغه ټولی خپرونی د دغی اداری په برېښنا پاڼه کې موجودی دی، او چاپ شوی کاپیانی کولای شی د دغه اداری له کتابتون نه بی له کوم قیمت څخه تر لاسه کړی. که تاسو غواړی چې د خپرونو د خپرېدو اعلان په خپل برېښنا لیک کې تر لاسه کړی نو دغه برېښنا لیک ته لیک را واستوی. newsletter@areu.org.af

## حکومت

*په افغانستان کې ولایتی حکومت: له ګډوډیا څخه د سمون په لور* په نام معلوماتی لیکنه چې سارا لیسټر او هیمش نیکسن لیکلی ده، د حکومت د لید په شرایطو کې د ولایتی شوراګانو او د ولایتی انکشاف کمیټو رولونه آزمایي. (ډېر ژر به په پښتو او دری ژبو باندی هم خپره شی).

د ۲۰۰۵ کال د نومبر د میاشت پاڼه د *ملی پیوستون د پروګارم نبه هم آهنګی: له تسهیل کوونکو غړو سره د ستونځو او د هغو د حل د لارو چارو مباحثی*، لیکواله پلوشه کاکړ، دغه پاڼه اوس په پښتو ژبه موجوده ده.

د ۲۰۰۵ کال د ډیسمبر د میاشت څپرونه *څو ټوټی پارلمان؟ د ۲۰۰۵ کال د ټولټاکنو تحلیل*. لیکوال انډریو وایلډر. دغه خپرونه اوس په دری ژبه موجوده ده.

## معیشت

*د افغانستان په کلیواله برخو کې د غیر رسمی قرضو طریقې: موضوعی څېړنه ۱: هرات*، لیکواله فلور کلین، دغه د دریو موضوعی څېړنو لمړی څپرونه ده چې موخه یې دا ده چې مایکرو کریډیټ په غیر رسمی قرضو باندی له یو اغیزی سره برلاسی کیدو د څرنګوالی په اړه یو لید وړاندی کړی.

د پنځو خپرونو د لړی وروستنی دری موضوعی څېړنی چې د ښاری معیشت په هلکه دی په درې ښارونو کې د کورنیو د معیشت ستراټیژۍ آزمایي، دغه څپرونی ټولی ستیفن شوت لیکلی دی:

*ځمکه تر لاسه کول: په جلال آباد کې ښاری معیشت*

*په بریالیتوب کې پرته خواری: په هرات کې ښاری معیشت*

*د امنیت په لټه کې: په کابل کې ښاری معیشت*

*د امنیت په لټه کې پاڼه په دری ژبه هم موجوده ده*

## مهاجرت

*دوامداره ساتنه، پایېدونکې بشپړونه: په ایران کې افغانی مهاجرین او کډوال*، لیکوال ام. جې. عباس شهوازی او ډیانا ګلوزی بروک، دغه خپرونه د افغانستان د څېړنې او ارځونې د اداری د اوږدمحاله څېړنی دریمه معلوماتی پاڼه ده چې د افغانانو فراملتی شبکو څخه په افغانستان، ایران او پاکستان کې لیدنه کوی.

*د پاکستان د شمال لویدیځ ولایت څخه ننګرهار ته راستانه شوی افغانان*، لیکواله ګلبدن حبیبی او پامیلا هنټی، د همدغی پروژې وروستنی نهمه موضوعی لیکنه ده.

## طبیعی منابع

د درې کلنی څېړنې، د اوبو د اداری، څارویو او د تریاکو د اقتصاد عملی موضوعی څېړنې، لمړنی موندنی په پنځو موضوعی لیکنو کې د راپور په بڼه وړاندی شوی:

د الن روی *بنسټیزه سروی*

*د ابولګونی سیسټم*، یان مکالیسټر اندرسن

*د اوبو ټولنیزه اداره*، جانوتن ال لې

*د څارویو ساتنه*، انټونی فیتزبرټ

*په کندز او بلخ کې د تریاکو کرنه*، آدم پن

*دغه* راپورونه د لمړنی ساحوی کار موندنی وړاندی کوی او د اوبو د رسونی، او د ټولنیزه اوبو د اداری د سیسټمونو، د څارویو د اداری، د ځمکو د لرنی رسمی او غیر رسمی *طریقی* او د تریاکو د کرنی د شرایطو او چلوونکو، اوسنی *طریقی* تشریح کوی.

## ښوونه او روزنه

د ۲۰۰۶ کال د مارچ د میاشتی معلوماتی پاڼه، *د ښونځیو له دیوالونو څخه هاخوا کتل: په افغانستان کې کورنی پریکړی او په ښونځی کې نوم لیکنه*، لیکواله پامیلا هنټی، دغه پاڼه اوس په دری ژبه هم موجوده ده.

## بازارونه او سیاسی اقتصاد

بازار ته تلل: د افغانستان په ۶ سکتورونو کې سوداګری او سوداګران، د انا پیټر سن لیکنه یوه ترکیبی لیکنه ده چې په افغانستان کې د راز راز بازاری سکتورونو اصلی موندنی له شپږو انفرادی موضوعی مطالعو څخه را کښباږی: ممیز، غالی، د سونګ معدنی مواد، درمل، د معماری مواد او د مستعملو موټرو بازار. نوموړی پاڼه یادونه کوی چې لوړی کچې ته د پایېدونکې خصوصی سکتور د ودی د چلوونکې موخی ته د رسیدلو له پاره افغانستان لا زیات کار باید وکړی.



# نوی خپرونی او منابع

## کرنه

*Afghanistan agriculture moving forward* / Daniel Miller. [Kabul?]: USAID, 2006. 16 p.; 30 cm.

دغه خپرونه په افغانستان کې د کرنی حالت او دا چې د دغه سکتور د بیا ژوندی کولو له پاره بسپنه ورکوونکې څه کوی..... تشریح کوی. دغه پاڼه په دغه بته کې موجوده ده http://dec.usaid.gov (د پلټنی له پاره له دغه کوډ څخه کار واخلی PN-ADF-903).

*The Afghan agricultural extension system: impact of the Soviet occupation and prospects for the future* / by Tooryalai Wesa. 2002. xv, 337 p.: ill., map. Thesis (Ph. D.)--The University of British Columbia, 2002.

*Agricultural commodity price bulletin*. Kabul: Ministry of Agriculture and Food, Planning Department, Marketing, Economics and Statistics Division. v.: map; 30 cm. AREU holds January, April, and May 2006.

دغه ورځپاڼه د کرنی د راز راز جنسونو او خدماتو د بیو کلنیزه معلومات وړاندی کوی (په شمول د څارویو). او په د ی کې د ملی مستهلکو د بیې نښه او د کابل د مستهلکو نښه هم وی.

*Agriculture prospects report.* Kabul: Ministry of Agriculture and Food, Marketing, Economics and Statistics Division. v.: col. ill., maps; 30 cm. Also published in Dari.

د دغه راپور له موخی څخه ده چې د کرنی او خواړو د وزارت د پالیسی تحلیل کوونکو او جوړوونکو ته په بیلا بیلو ولایاتو کې د حبوباتو د رسولو او د تقاضاوو په هکله تر ټولو نوی ډیټا او د تهدیدونکو مزرو حشرو او امرازو په هکله معلومات برابر کړی، تر څو انکشافی هڅی او منځګړتوب پلان او پیل شی.

*Building a new agricultural research and extension system in Afghanistan: initial thoughts* / Daniel Miller. [Kabul?]: USAID, 2006. 8 p.; 30 cm. Available at http://dec.usaid.gov (enter document number: PN-ADF-904).

*Case study: vegetable dehydration and processing factory in Afghanistan* / Kenneth E. Neils. [Kabul?]: USAID, 2006. 11 p.; 30 cm. http://dec.usaid.gov (enter document number: PN-ADF-907).

*Master plan 2005* / Ministry of Agriculture, Animal Husbandry and Food (MAAHF), Government of Afghanistan. [Kabul]: MAAHF, 2005. xv, a-c, 379 p.; 30 cm. (3 MB file)

د ۲۰۰۵ کال ماستر پلان چې د اوږدی، پیچلی او د لوړی کچې د وندې د پروسی له لاری چې په ولایتی او ملی کچه یې لویې او کوچنی غونډی درلودلی، مینځ ته راغلی او د ۲۰۰۴ کال د پالیسی او ستراتیژی د کاری چوکاټ پر ځای راځی. د دغه پلان د راز راز برخو مجموعه داسی طرح شوی ده چې د کرنی د سکتور دودی له تولیزه اندازی څخه ۲ فیصده یې برابره کړی. محتویات: د اجرایې خلاصه (له ۱ - ۱۹ مخه پوری)؛ فصل ۱. د کرنی د سکتور د پراختیا ستراتیژی )له ۲۰ - ۲۱ مخه پوری)؛ ۲. د کرنی وده، د خواری له منځه وړل (۲۲ - ۷۱)؛ ۳. کرن پوهه (۷۲ - ۱۲۴)؛ ۴. څاروی (۱۲۵ - ۱۷۹)؛ ۵. د خواړو حفاظت (۱۸۰ - ۲۱۲): ۶. د طبیعی منابعو، ځمکي، اوبو، ځنګلونو، د ژوو نړی، نا مزروع ځمکی، او د چاپیریال ساتنه (۲۱۳ - ۲۴۰)؛ ۷. د څیړنی او تکنالوژی انتقالول (۲۴۱ - ۲۶۰)؛ ۸. د کلیواله مالیې سیستم (۲۶۱ - ۲۶۹)؛ ۹. د کرنی، مالداری او خواړو د وزارت پالیسی، څارنه او ارزیابی، او پلان جوړونه (۲۷۰ - ۲۸۹)؛ ۱۰. خصوصی جوړونه، او د خصوصی سکتور پراختیا (۲۹۰ - ۳۲۰)؛ ۱۱. کیفیت سمبالول او د تصدیقولو سیستم )۳۲۱ - ۳۴۴)؛ ۱۲. د جنسیت مساوات (۳۴۵ - ۳۵۳)؛ ۱۳. د خلکو ونده اخستنه او واکمن کونه (۳۵۴ - ۳۶۵)؛ ۱۴. [بشری منابع] (۳۶۶ - ۳۷۴)؛ ۱۵. داخلی بازار او د بازار د زیربنا انکشاف (۳۷۵ - ۳۷۹).

*Perennial horticulture in eastern Afghanistan: subsector overview and implementation strategy* / Juan M. Estrada. [Kabul?]: USAID, 2005. iii, 42 p.; 30 cm

دغه څیړنی د ختیځ افغانستان [ننګرهار، کنړ، او لغمان] د میوو او خستو د سکتور د برخی مرور وړاندی کوی. (اجرایې خلاصه، لمړی پاڼه). http://dec.usaid.gov (د سند شمیره هم داخله کړی: PN-ADF-909)

*Privatization of veterinary services in Afghanistan: development that works*. [Kabul?]: USAID, [2006]. 3 p.; 30 cm. http://dec.usaid.gov (enter document number: PN-ACG-913).

د کرنی د بازار د بیا جوړونی پروګرام په هکله لاندنی پنځه لنډی پاڼی په دغه بریښنا پاڼه کې موجودی دی. www.dec.org (پلټنه د سند د شمیری له مخی وکړی):

*Rebuilding Agricultural Markets Program (RAMP): activities by province in Afghanistan (January 2006)* 8 p. (PD-ACG-916).

*Rebuilding Agricultural Markets Program (RAMP): activities in Balkh province*. 3 p. (PD-ACG-917).

*USAID/RAMP projects in Nangarhar.* [Kabul?]: USAID, [2006]. 4 p. (PD-ACG-914)

*Rebuilding agricultural markets program (RAMP).* [Kabul?]: USAID, [2006]. 2 p. (PD-ACG-919).

*Economic benefits of RAMP activities*. [Kabul?]: USAID, [2006]. 9 p. (RAMP insights; v. 3 (February 1, 2006)) (PN-ADF-913).

## اقتصادي پراختيا

*The Afghanistan Reconstruction Trust Fund (ARTF): presentation by the Administrator, donors meeting, February 2, 2006.* London: [ARTF], 2006. [29] p.; col. ill.; 21 x 30 cm.
يو پور پوينټ نمايش www.worldbank.org/artf.

*Afghanistan: managing public finances for development* / Poverty Reduction and Economic Management Sector Unit, South Asia Region. [Washington, D.C.]: World Bank, [2005]. 152 p.: col. ill.; 27 cm.

*Afghanistan: what kind of peace? The role of participatory rural development in peace-building* / Omar Zakhilwal and Jane Murphy Thomas. 2006. 30 p.; 30 cm. Pre-publication draft.
دغه پاڼه به په يو کتاب کې چې د سولې جوړولو په هکله د شپږو د جنګ څخه د وروستنيو هيوادونو پاڼې راغونډوي، څرګنده شي، چې د کاناډا شمال جنوب موسسې له خوا خپرېږي.

*Economic indicators* / Islamic Republic of Afghanistan, six and seventh reviews under the Staff-Monitored Program. 6th review (22 November 2005) www.imf.org/external/np/ms/2005/112205.htm. 7th review (26 March 2006) www.imf.org/external/np/ms/2006/032606.htm
